# د پښتو ژبې د لهجو پهٔ تقسيم کښې د داوړوالې، اورکزۍ او بنګښ لهجو مقام

# Place of Dawarwala, Orakzai and Bangash Dialects in the Classification of Pashto's Dialects Groups

Muhammad Tahir Khan (Tahir Dawar)[1]
tahirdawarbmc@gmail.com

Dr. Bushra Khatoon[2]
drbushra@uop.edu.pk

Issn 2304-1463

## Abstract:

Linguists have divided the Pashto language into five groups of dialects. These include classifications into two groups, three groups, four groups, and five groups. The division into two groups is based on phonetic features, particularly the sounds /ž/ (ʒ), /ẓ̌/ (ʐ), /ṣ̌/ (ʂ), and /š/ (ʃ). On this basis, the dialects are categorized as Kandahari or Khattak and Yusufzai or Peshawari. The three-group classification is made geographically within Afghanistan, consisting of the Western (Kandahari), Central (Kabuli), and Eastern (Nangarhari) dialects. The four-group classification is also based on geography, dividing the dialects into Southwestern, Southeastern, Northwestern, and Northeastern regions. The five-group classification includes is called the Central or Middle dialect, which, in addition to Afghanistan, is spoken in the tribal areas of Khyber Pakhtunkhwa in Pakistan, including North Waziristan, South Waziristan (Wana), Bannu, and Karak.

The Dawar, Orakzai, and Bangash dialects can also be classified on both phonetic and regional bases. The Dawari dialect shares phonetic features of the Kandahari or Khattak dialect, such as the sounds /ž/ (ʒ) and /š/ (ʃ). Meanwhile, the Orakzai and Bangash dialects share phonetic characteristics with both the Kandahari or Khattak and Yusufzai or Peshawari dialects, including /ž/ (ʒ), /š/ (ʃ), /ẓ̌/ (ʐ), and /ṣ̌/ (ʂ). For this reason, Orakzai and Bangash dialects can specifically be referred to as a "transitional group," as they are relatively Karlani in tribal classification, and linguistically they represent a semi-Kandahari or Khattak and

[1] PHD Scholar Pashto academy, university of Peshawar
[2] Assistant professor Pashto academy, University of Peshawar

semi-Yusufzai or Peshawari dialect. Therefore, they cannot be fully placed either in the Kandahari or Khattak dialect group or in the Yusufzai or Peshawari dialect group.

**Keywords:** Pashto Dialects, Kandahari Dialect , Yusufzai Dialect , Karlani Dialects, Transitional Dialect Group , Phonetic Classification

## د پښتو د لهجو د ګروپونو تقسیم:

د پښتو د لهجو تقسیم ژبپوهانو په بېلابېلو ګروپونو کښې کړے دے چې تر اوسه پورې ټول پېنځۀ ګروپونه جوړېږي خو د لهجو دا تقسیم په مکمله توګه سر ته نۀ دے رسېدلے ځکه چې د پښتو ژبه نوره هم داسې ډېرې لهجې موجودیت لري چې په باقاعده او مکمله بڼه ئې چا څېړنه نۀ ده کړې که چرته د پښتو ژبې د هغو لهجو څېړنه په پام کښې ونیوله شي نو امکان لري چې د پښتو ژبې د ګروپونو په شمېر کښې اضافه و شي تراوسه پورې چې د پښتو ژبې د لهجو کوم تقسیم ژبپوهانو کړے دے هغه مونږ لاندې بیانوو

## د پښتو د لهجو دوه ګروپونه:

پښتو ژبه هم د نورو ژبو په شان په مختلفو سیمو کښې ډېرې لهجې لري خود لسانیاتو ماهرینو ښکاره د صوتیاتي خصوصیاتو په بنیاد پښتو ژبه په دوو غټو لهجو یوسفزۍ او قندهارۍ یا خټک لهجه کښې تقسیم کړې ده او د نورو قبیلو لهجې په دې دوو لهجو کښې شمارلے شي دې ته یوعمومي تقسیم وائي خو د ځینو قبیلو لهجې خپل ځانګړې خصوصیات هم لري-

د پښتو د لهجو دوه غټ ګروپونه دي چې یو ته یوسفزۍ لهجه وائي او بل ته قندهارۍ یا خټک لهجه وائي د دې دواړو لهجو بنیادي فرق د/ ږ/، /ښ/ آوازونو په بنیاد باندې دے کوم خلق چې یوسفزۍ لهجه وائي هغه/ګ/ او/خ/ په استعمال کښې راولي او کوم خلق چې قندهارۍ یا خټک لهجه وائي هغه د /ږ/ او /ښ/ په ځاے /ژ/ او/ش/ په استعمال کښې راولید لسانیاتو ستر ماهر ګرېئرسن د پښتو د لهجو د دوه ګروپونو تقسیم په حقله لیکي:

> "دوې غټې لهجې رسميت لري چې کومې پهٔ شمال مشرق او جنوب مشرق کښې وئيلې کيږي پهٔ دې کښې غټ توپير د تلفظ دے د شمال مشرق افغانان /ښ/ د پاره /خ/ او هم دا رنګه د /ږ/ د پاره /ګ/ وائي خو د جنوب مغرب افغانان د /ش/ او /ژ/ توري وائي د شمال مشرقي ګروپ څخه مهمې لهجې لکه غلزي او افريدي (د معياري ليک د ژبې نه سوا) د ژبې نوم پختو تلفظ کوي مګر د جنوبي مشرقي ګروپ خلق لکه وزير (د برني استثنا غوندې) دا پشتو ادا کوي د برطانوي امپراتوري لاندې سيمې نه سوا څهٔ صحيح او باوري معلومات پهٔ لاس نهٔ راځي چې د دواړو لهجو ترمېنځ د بېلتون کرښه څنګه تېره شوې ده" (1)

ښاغلے صديق الله ريښتين اګر چې پهٔ خپله درې لهجې مني خو دلته د د دوو لهجو تفصيل دے داسې ورکوي:

> "که څهٔ هم تر اوسه پورې د لوېديځو ختيځو پوهانو لهٔ خوا د پښتو لهجې پهٔ دوو لوېديځو او ختيځو لهجو وېشل شوې دي او بنسټ ئې د دوو تورو (ښ،ږ) توپير ګڼي چې پهٔ لوېديځو لهجو کښې ئې د (ش، ژ) ته نژدې او پهٔ ختيځو لهجو کښې (خ، ګ) تلفظ وئېل کيږي" (2)

دلته چې کومه خبره د لهجو د تقسيم پهٔ حقله صديق الله ريښتين کړې ده نو دا د جغرافيائي تقسيم سره هم تعلق لري او د صوتياتو سره هم تعلق لري ځکه چې دلته ئې اول د لهجو تقسيم د لوېديځ او ختيځ تقسيم ښودلے دے خو چې د تورو (ښ،ږ) ئې کوم توپير ګڼلے دے زما پهٔ خيال چې دا توري نه بلکه صوتئې(phonemes) دي.

پهٔ هم دې کتاب"پښتو ګرامر"کښې صديق الله ريښتين د وزيرو، خټکو، کاکړو، احمدزيو، وردګو، پکتيا، افريديو، يوسفزيو، باجوړو، مهمندو، خوګيانو او د شينوارو لهجې

پهٔ تفصیل سره ښودلې دي خو د داوړوالې، اورکزئ او بنګښ لهجوذکر ئې نهٔ دے کړے د پښتو ژبې د لهجو د دوو ګروپونو تقسیم ډاکټر خالد خان خټک داسې ښودلے دے:

"د پښتوژبې لهجې پهٔ دوو غټو ګرپونو کښې تقسیم شوې دي-

۱. یوسف زی لهجه

۲. خټک یا قندهاری لهجه

د دې دوه سره ګروپونو پهٔ منځ کښې افریدي، بنګښ، اورکزئ ګروپ د یو پل کار کوي دلته د دې تفصیل نه ډېره کوو-

د دې دواړو لهجو اختلاف چې مونږ مخې ته کښېږدو نو پهٔ تحریر کښې د پخوا نه څلورعلامتونه ځ، څ، ږ او ښ پهٔ پښتو حروف تهجي کښې شامل کړي شوي دیخو د آواز پهٔ لحاظ سره دا ځانګړي اوازونه نهٔ دي

څ = د س نژدې آوازڅادر (چادر)

ځ = د ذ نژدې آوازځوان (جوان)

ږ = یوسف زی ګروپ د پاره ګږیره(داڑھی)

خټک یا قندهار ګروپ د پاره ژژیره (ګیره)

ښ = یوسف زی ګروپ د پاره خ اوښ (اونټ)

خټک یا قندهار ګروپ د پاره ش اوش (اوخ) " (3)

زما پهٔ خیال چې پهٔ دې پاسنی حواله کښې د کاتب نه غلطي شوې ده یوسفزي (ږیره) نه بلکه داسې (ګیره) او اوښ نهٔ بلکه داسې اوخ تلفظ کوي ځکه چې پهٔ مثالونو کښې پهٔ ترتیب سره

/ګ/ او /خ/ ورکړي شوي دي قندهارۍ یا خټک لهجه د خیبرپښتونخوا پۀ جنوبي سیمو کښې او د بلوچستان پۀ پښتنو سیمو کښې وئیله شي د دې نه علاوه د افغانستان پۀ جنوبي سیمو کښې وئیله شي دې لهجې ته خټک او جنوبي لهجه هم وئیله شي او یوسفزۍ پۀ قندهارۍ لهجه پسې دویمه غټه لهجه ده چې پخواني خلق ورته یوسفزۍ او د نني دور خلق ورته پېښورۍ لهجه وائي د لسانیاتو ځینې ماهرین یوسفزۍ لهجې ته شمالي لهجه هم وائي د قندهارۍ او یوسفزۍ لهجې تقسیم پۀ حقله عبدالله جان عابد داسې لیکي:

"د لهجو دا تقسیم د یوې کرښې پۀ ذریعه مونږ کولے شوچې د مغرب نه مشرق طرف ته سرحد (خېبر پښتونخوا)، بلوچستان او د افغانستان سره تیریږي د جغرافیائي تقسیم مطابق د قندهارۍ یا خټک لهجې واله ګروپ قبیلې جنوب طرف ته اوسیږي او د دې وجې نه دې ته جنوبي لهجه هم وائي پۀ سیمو کښې ئې قندهار، غزنې، کوټه،ژوب، وزیرستان، بنو، لکي مروت، کرک او د کوهاټ ځینې سیمې شاملې دي چې پۀ هغه کښې غلزئ، کاکړ، وزیر، محسود، مروت، بنوڅي او خټک قبیلې د یادولو وړ دي او دا ټولې قبیلې د قندهار خټک ګروپ سره تعلق لري- پۀ بل لوري د دې کرښې شمال طرف ته کابل، لوګر، لغمان، ننګرهار، سوات، بونیر او د مهمندو باجوړو سیمه شامله ده پۀ دغو سیمو کښې خلیل، مهمند، داؤدزي، افریدي، بنګښ اورکزۍ او یوسفزۍ قبیلې آبادې دي یاده دې وي چې عامې خبرې هره قبیله پۀ خپله مخصوصه لهجه کښې کوي البته د ادبي مقاصدو، تقریر و تحریر، رېډیو، ټیلي ویژن او اخبارونو رسالو د پاره معیاري لهجې معلومې کړې شوې دي پۀ کابل کښې زیاته مهمند لهجه او پۀ کوټه کښې کاکړ لهجه معیاري جوړه شوې ده هم دغه شان پۀ ډېره اسماعیل خان کښې مروت لهجه او پۀ پېښور کښې مقامي خلیل، مهمند او داؤدزۍ لهجې

معياري لهجې ګڼلې شي مردان، صوابي، سوات او دير کښې سوچه
يوسف زی لهجه کاروله شي" (4)

دلته چې کوم تقسيم د لهجو شوے دے نو دا جغرافيائي تقسيم دے ځکه چې دلته د خېبر پښتونخوا ، بلوچستان او د افغانستان بېلا بېلې هغه سيمې ذکر شوې دي کومې چې د کرښې نه اخوا دېخوا دي او بيا په دې سيمو کښې د مېشتو قبيلو ذکر هم په تفصيل سره وشو کومې چې د دې سيمې سره تعلق لري خو دلته که مونږ فکر وکړو خېبر پښتونخوا ده او که بلوچستان دے يا که افغانستان دے د ټولو قبيلو او د لهجو ذکر په تفصيل سره وشو د وزيرستان هم وشو او په وزيرستان کښې د وزيرو او محسودو قبيلو ذکرهم وشو او د لهجو ذکر ئې هم و شو خو داوړ قبيلې او د داوړو د لهجې ذکر نۀ دے شوے ګني داوړواله لهجه هم د دې ګروپ لهجه ده او د کرلاڼي مرکزي لهجو سره مربوطه ده-

د پښتو لهجو د دوو ګروپونو تقسيم ته ځينو ژبپوهانو سخته او نرمه لهجه وئيلي دي يعني کوم چې د /ښ/ آواز /خ/ او د /ږ/ آواز /ګ/ ادا کوي چې په يوسفزی لهجه کښې استعمالېږي هغې ته ئې سخته لهجه وئېلي دي او کوم چې /ش/، /ژ/ وباسي چې په قندهاری يا خټک لهجه کښې استعمالېږي هغې ته ئې نرمه لهجه وئېلي دي د لهجود دوو ګروپونو تقسيم (سخت، نرم) په حقله په انسائيکلوپيډيا ايرانيکا کښې kieffer داسې ليکي:

"د پښتو لهجې په عمومي ډول په نرمه او سخته کښې کښې وېشل شوې دي او دا وېش د ژبې ډول ډول آوازونو ښ، ږ، ژ (soft) او خ، ګ، ج (hard) د لوستلو پربنسټ دے" (5)

د سختتې او نرمې لهجې په حقله چې کوم تقسيم ژبپوهانو کړے دے هغه ئې د آوازونو په بنياد کړے دے چې د /ږ/ په ځاے د /ګ/ آواز ادا کوي او د /ښ/ په ځاے د /خ/ آواز ادا کوي-

د نرمې او سختې لهجې په حقله پرېشان خټک ليکي:

"د نرم او سختې لهجې بنيادي فرق ژ، ګ او ش، خ کښې دے ځکه نو دې خلقو د دې پاره دوه نوي توري جوړ کړي دي کوم چې په هغه وخت ليکلے شي کله چې يو لفظ د دواړو لهجو وايونکي په خپل خپل طرز استعمالوي د ژ او ګ د پاره ئې ږ جوړ کړو لکه مونږ، ږيره او کيږي، ته د نرم لهجې واله موژ، ژيره او کيژي وائي او هم دا لفظونه د سختې لهجې واله مونګ، ګيره او کيګي تلفظ کوي" (6)

د ننګرهار او پېښور په سيمو کښې/خ/ او /ګ/ استعماليږي اود کوهټې او د خېبر پښتونخوا په جنوبي اضلاع کرک، بنو او وزيرستان کښې/ش/ او/ژ/ استعماليږي خو ډاکټر هدايت الله نعيم صاحب وائي چې سختې او نرمې لهجې ته د جنوبي پښتونخوا او شمالي پښتونخوا لهجې وئېل په کار دي ډاکټرهدايت الله نعيم صاحب دسختې او نرمې لهجې په حقله ليکي:

"ځيني خلق ټوله پښتو په دوو لهجو کښې تقسيموي د بره پښتونخوا لهجې ته پسته او ښکته دې ته لواړه لهجه وائي مګر په دې طريقه د بلوچستان پښتانۀ تر مېنځه پاتې کيږي ولې چې اوسي لاندې او لهجه ئې د برنو پښتنو سره ورته ده ځکه نو زما په خيال چې مونږ جنوبي پښتونخوا او شمالي پښتونخوا ووايونو زياته به صحيح وي بيا جنوبي پښتانۀ په پسته لهجه کښې او شمېرو او شمالي په لواړه کښې په سمون او د ښکته او بره هغه خبره هم ختميږي او د لهجې په لحاظ دلته د ننګرهارنه تر پېښوره او هلته د قندهار نه تر کوهټې او حتي ترختټکواو مروتو پورې په کښې د لهجو د ورته والے حق هم ادا کيږي" (7)

## د پښتو د لهجو درې ګروپونه:

لکه څنګه چې مخکښې د پښتو لهجو د دوو ګروپونو تقسیم پهٔ حقله خبره وشوه نو همداسې ځینو ژبپوهانو د پښتو لهجې پهٔ درېوو ګروپونو کښې هم تقسیم کړې دي-

دپښتوژبې ستر پوهاند ښاغلےصدیق الله ریښتین وائي چې د پښتو لهجې پهٔ دوو سترو او اصلي ډلو وېشل کیږي او لهجې پهٔ درې فرعي ډوله دي لکه د ے پهٔ دې حقله لیکي:

" (۱) لوېدیځه لهجه:چې د کندهارۍ لهجې پهٔ نوم هم یادیږي او د تاریخي افغانستان پهٔ لوېدیځو اوسهیلي (جنوبي) سیمو کښې وئېل کیږي پهٔ دغه لهجه کښې د پښتو دوه ځانګړي توري(ښ، ږ) د (ش، ژ) آواز ته نژدې تلفظ کیږي او بل مهم ځان لهٔ توب ئې دا د ے چې پهٔ کومکي فعلونو کښې د (ش) آواز پهٔ (س) بدلیږي یعني (وشو، شوے د ے، شته، نشته) کلمې پهٔ (وسو، سوے د ے، سته، نسته) وئېل کیږي-

(۲) مرکزي لهجه:چې د منځنۍ لهجې پهٔ نوم هم یادیږي او افغانستان پهٔ مرکزي سیمو کښې لکه: غزني، وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا او نورو سیمو وئېل کیږي پهٔ دغه لهجه کښې د پښتو ځانګړي توري(ښ،ږ) پهٔ خپل اصلي آواز تلفظ کیږي او د تلفظ پهٔ وخت کښې ئې د ژبې منځنۍ برخه له پورتني تالو سره نښلي-

(۳)ختیځه لهجه:چې د ننګرهارۍ لهجې پهٔ نوم هم یادیږي او د ننګرهار، مومندو، باجوړو، اشنغر او یوسفزو پهٔ سیمو کښې وئېل کیږي پهٔ دې لهجه کښې(ښ، ږ) د (خ، ګ) پهٔ څېر وئېل کیږي" " (8)

دلته صدیق الله ریښتین د پښتو لهجو اصلي درې ګروپونه ښودلي دي پهٔ لوېدیځه (مغربي) لهجه کښې ئې د افغانستان لوېدیځو او سهیلي (جنوبي) سیمو ذکر کړے د ے خو پهٔ پاکستان کښې ئې د د بلوچستان کوېټې ذکر نهٔ د ے کړے پهٔ بلوچستان کوېټه کښې هم د شین

آواز پۀ (س) بدلیږیدلته ئې د منځنۍ لهجې ذکرهم نۀ دے کړے، مروت اوبېټنې هم د شین آواز پۀ (س) بدلوي د پښتو لهجو د درې ګروپونو پۀ حقله حبیب الله تږے او باربره روبسن لیکي:

"د پښتو ژبې درې غټې لهجې دي چې قندهارۍ یا لوېدیځه لهجه، کابلۍ یا مرکزي لهجه او ننګرهارۍ یا ختیځه لهجه ده د قندهارۍ لهجې ویونکي د افغانستان پۀ جنوبي ختیځ او د بلوچستان پۀ سیموکښې دي د خټکو قبیله چې پۀ کوهاټ(اوس کرک) کښې استوګنه لري او پۀ پشتو ادب کښې ئې د ښۀ روایاتو بنسټ ئې ایښے دے دا هم قندهارۍ لهجه پۀ استعمال کښې لري هم دا رنګه شا و خوا سیمو کښې میشتۀ د وزیرو پۀ ژبه کښې هم څۀ د قندهارۍ لهجې خصوصیات لیدل کیږیدا یووالے پۀ خصوصي توګه د رېټروفلېکس آوازونو کښې دےد کابلۍ یا مرکزي لهجې خلق پۀ کابل،لوګر،غزني او پروان پۀ سیمو کښې موجودیت لري د ختیزې یا ننګرهارۍ لهجې خلق پۀ ننګرهار او د افغانستان پۀ شمال مشرق کښې او د پاکستان د شمال مغرب پۀ سرحدي صوبه (اوس خیبر پښتونخوا) کښې وئېل کیږي" (25)

کابلۍ یا مرکزي لهجه او ننګرهارۍ لهجه د پاکستان د شمال مشرقي سیمې د یوسفزۍ لهجې سره نژدې لهجې دي چې لغات ئې بېلابېل او صوتئې ئې تقریباً یو شان دي خلق ئې د یو بل سره پۀ خبرو باندې پۀ آسانه پوهیږي ځکه چې پۀ دې لهجو کښې د /ږ/ آواز /ګ/ او د /ښ/ آواز /خ/ ادا کیږي بل طرف ته د قندهار، بلوچستان او د خیبر پښتونخوا پۀ جنوبي اضلاع کښې خټک، بنوڅي، داوړ او وزیر هم /ژ/ او /ش/ آواز یو شان اداکوي-

## د پښتو د لهجو څلور ګروپونه:

لکه څنګه چې د لسانیاتو ماهرینو د پښتو د لهجو تقسیم پۀ دوو ګروپونو کښې کړے وۀ هم داسې نورو د لسانیاتو ماهرینو مزید هڅه وکړه چې د پښتو د لهجو تقسیم ئې نوره هم وسیع

کړو او پهٔ نورو ګروپونو کښې ئې د پښتو لهجې ووېشلې د پښتو د دوو ګروپونو او د درېوو ګروپونو د تقسیم نه پس د لسانیاتو ماهرینو پښتو بیا مزید پهٔ څلورو ګروپونو کښې تقسیم کړې ده دا تقسیم جنوب مغربي، جنوب مشرقي، شمال مغربي او شمال مشرقي منطقو پهٔ بنیاد باندې شوے دے ډي.این.مېکېنزي د لهجو د څلورو ګروپونو تېبل داسې پېش کړے دے:

لهجې

| یوسفزی | منځني غلزی | کوېټه | "قندهار |
| --- | --- | --- | --- |
| س | س | ث | څ |
| ز | ز | ج | ځ |
| ج | ژ | ژ | ژ |
| ګ | غ | ژ | ږ |
| خ" (10) | خ | ش | ښ |

دا د پښتو د لهجو هغه تېبل دے کوم چې مېکېنزي دلهجو د څلورو ګروپونو تقسیم پهٔ حقله پېش کړے دے دې تېبل ته که مونږ پهٔ غور سره وګورو نو جنوب مغرب، جنوب مشرق، شمال مغرب او شمال مشرق پهٔ بنیاد دا یو جغرافیائي تقسیم دے دلته جنوب مغرب او شمال مغرب پهٔ افغانستان کښې د لهجو سیمه ده، جنوب مشرق او شمال مغرب د پاکستان د لهجو سیمه ده کومه چې د جنوب مغرب لهجه ده هغې ته قندهاری لهجه وائي او کومه چې د شمال مشرق لهجه ده هغې ته یوسفزی لهجه وائي کومه چې شمال مغربي لهجه ده هغې ته مرکزي غلزئ لهجه وائي او کومه چې جنوبي مشرقي لهجه ده هغې ته ئې د کوېټې لهجه وئېلې دي د پښتو ژبې د لهجو د څلور ګروپونو تقسیم پهٔ حقله ډاکټر مجاور احمد زیار داسې لیکي:

"لومړۍ ډله لوېدیځ یا قندهاري ګړدودونه پهٔ لومړنۍ لیکه قندهار، هېلمند، سیستان....کښې د غلجي، غرغښتي.....لړه کیوتر څنګه زیاتره پهٔ سړبني پښتنو اړه لري-

دویمه ډله یا سوېل ختیځ ګړدودونه د لومړۍ ډلې پهٔ مخامخ جغرافیائي دریځ کښې ټېکاو لري، یا پهٔ بله وېنا زیاتره لهٔ کسې غرهٔ سوېل او ختیز ته راځي پهٔ داسې اکر کښې چې لومړۍ ډله زیاتره دغه تاریخي پښتني ټاټوبي شمال او لوېدیځ ته راځي پهٔ دغه دویمه ډله کښې ټبرني پلوه د لړه کیو سړبنو ترڅنګه زیاتره غرغښتي او کرلاڼي ټبرونه راځي لکه کاکړ، کاسي، شېراني، وزیر، مسید، ګنډا پوري، بنوڅي او خټک دغه راز بېټني چې له پنځو بنسټیزو ټبرو څخه کوم ځانتني دریځ نهٔ لریاوس لهٔ پهٔ خوا راسې پهٔ وزیرستان او ورسره څرمه سیمو کښې اوسي هم پهٔ هم دغه دویمه ګړدودي ډله کښې شمېرل کیږي لهٔ بلې خوا یو لړ کرلاڼي ټبرونه، لکه ځدراڼ، تڼي، منګل، ځاځي او وردګ یو بېدودي(استثناء) رامنځ ته کوي او اوسنیو سیمو ته ترلېږدېدنې مېشتېدنې راوروسته ئې زیاتره هغه هم د /ښ/ او /ږ/ لهٔ پلوه د ګاونډو غلجي ټبرونو ګړدود راخپل کړے، یا پهٔ بله وېنا پهٔ دریم ګړدودي وېش (ږ g، ښ x) کښې ئې ټېکاو موندلے دے او د خپل کرلاڼي ګړدود یا ګړدودونو هماغه خپلواکونج (واولي بدلون) او /ش/ (شته.....) او داسې نورې نښې نښانې ئې څهٔ نا څهٔ ساتلې دي-

دریمه ډله (منځنۍ) ګړدودونه د درانیو، غلجیو لهٔ پهٔ خوانۍ ټبرنۍ پولې"جلدک" څخه د جلال آباد سره رود تر دو سرکې پورې نژدې پهٔ یو مخیز ډول ټول غلجي ټبرونه رانغاړي هر ګوره د متوزیو دویمه ډله ټبرونه لکه د غزني د کره باغ خروټي، دوتاڼي هم د راز د ښېرنې علي خېل یا د زرملې مینزې پهٔ استثنائي توګه د دویمې ګړدودې ډلې (ښ š-

ږ ž) استازي کوي پۀ زړۀ پورې بيا دا چې دغو ټبرونو د کاکړو، شېرانيو او د سوېلي پښتونخوا نورو شا خوا ټبرونو د (ښ š) ترڅنګه د (ږ z) دويمې بدلون (ز) هم راخپل کړي دي-

څلورمه (د شمال ختيځه يا ننګرهارۍ) ګړدودې، يا " د دې پشتو " ډله لۀ جغرافيائي پلوه لۀ غلجائي حصارک او سره رود (لۀ غلځائي ټبرونو پرته) ټول ننګرهار، کونړ، لږو ډېرو باجوړ، د مومندو سيمه، شا وخوا پېښور، سوات، چچ هزاره ضلع، هري پور تر تاريخي هندي بريد "مارګلې" پورې ټولې سيمې رانغاړي چې پۀ ټولنيز ډول پۀ کښې مومند، شينواري، ساپي، ترکاڼي، يوسفزي، دلازاک، خليل، داودزي، ګدانه او نور لوے واړۀ ټبرونه راځي"(11)

د پښتو لهجو د څلورو ګروپونو پۀ حقله هينډرسن دا سې ليکي:

"پښتو چې يوه آريائي ژبه ده پۀ افغانستان او پاکستان کښې وئېل کيږي د دويم توري/ښ/ يا /ش/ پۀ بنياد څلور لهجې جوړيږي چې هم Pəṣto ده او پۀ قندهار کښې وئېل کيږيPəšto پۀ کوېټه کښې وئېل کيږي پۀ شمال مشرق کښې Paçtoوئېل کيږياو پۀ پېښور کښې Paxto وئېل کيږي-

يوازې د/ښ/ پۀ سيمه کښې د اتو آوازونو(ش،ژ،ښ،ږ،ک، ګ، خ،غ) يو سېټ دے چې د املاء سره تعلق لري پۀ سيمه کښې /ګ/ د قندهار /ږ/ سره تعلق لري او نور د آوازونو قسمونه د قندهار /ښ/ سره تعلق لري لکه د لاندې ټېبل چې ورکړې شوےدے-

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قندهار پښتو | ښ | ږ | ش | ژ | ک | ګ | خ | غ |
| کوېټه پشتو | ش | ژ | ش | ژ | ک | ګ | خ | غ |

شمال مشرق Paçto ç ګ ش ژ ک ګ خ غ

پېشور پشتو خ ګ ش ژ ک ګ خ غ"

(12)

دلته ئې د پښتو ژبه ځکه ايرانۍ ژبه ګڼلې ده چې د پښتو ژبه پۀ انډو ارين کښې د انډو ايرانين سره تعلق لري او دا ژبه د پاکستان او افغانستان د دواړو هېوادونو پۀ سيمو کښې وئېله شي د پښتو ژبې د لهجو چې کوم څلور ګروپونه هينډرسن ښودلي دي دغه ئې اول او دويم ګروپ پۀ افغانستان کښې پۀ قندهار ګروپ او پۀ پاکستان کښې پۀ کوېټه ګروپ کښې تقسيم کړي دي دا دواړه ګروپونه /ژ/ او/ش/ د يو بل نه بدل وائي او بيا ئې دريم او څلورم ګروپ ئې د افغانستان پۀ شمال او د پاکستان پۀ پېښور ګروپ کښې تقسيم کړي دي.دا دواړه ګروپونه هم /ګ/ او /خ/ د يو بل نه بدل وائي اګرچه /ګ/ يوشان وائي خو /خ/ د يوبل نه بدل وائي خو دلته ئې د پېښور پۀ ګروپ کښې چې کومه /ژ/ ليکلي ده زما پۀ خيال چې دلته غلطي ورنه شوې ده ځکه چې د پېښور خلق /ژ/ نۀ استعمالوي بلکه د/ژ/ پۀ ځائے /ج/ استعمالوي لکه د مثال پۀ طور ژبه=جبه-

دلته هينډرسن د قندهار، کوېټه، شمال مشرق(ننګرهار) او پېښور ذکر کړے دے خو دا ذکر ئې نۀ دے کړے چې د قندهار او د کوېټې ګروپ پۀ شان د خېبر پښتونخوا جنوبي اضلاع کرک، بنو او وزيرستان پۀ لهجو کښې هم / ژ/ او / ش/ استعماليږي- زما پۀ خيال چې دا وضاحت هم ضروري وۀ چې کړے ئې وے-

د لسانياتو ماهرينو د لهجو د څلورو ګروپونو تقسيم پۀ مختلفو طريقو باندې کړے دے چې پۀ دې کښې ځينو د پاکستان د پښتنو د سيمو لهجې پۀ څلور ګروپونو کښې وېشلې دي او ځينو د افغانستان د پښتنو د سيمو لهجې پۀ څلورو ګروپونو کښې وېشلې دي او ځينو د پاکستان او افغانستان دواړو د پښتنو د سيمو لهجې پۀ څلورو ګروپونو کښې وېشلې دي.د پښتولهجو د څلور ګروپونو پۀ حقله سکائرو ليکي:

"د پښتو لهجې په مناسب ډول په څلورو غټو ګروپونو کښې وېشل کيږي (۱) د جنوب مغرب لهجه چې په جنوب مغربي افغانستان د قندهار په سيمه کښې وئيل کيږي (۲) شمال مغرب يا مشرق يا د شمال مشرق لهجه: دا د افغانستان په مشرق او کابل صوبه کښې وئيلې کيږي او په شمال مشرقي افغانستان او په منځني افغانستان کښې د غلزئ په سيمه کښې (۳) جنوب مشرقي لهجه چې په بلوچستان، بنو، وزيري، کاکړي، شېراني، سپين/تور ترين کښې وئيل کيږي (۴) شمال مشرقي: د شمال مغرب پاکستان په پېښور، يوسفزی، مهمند، د شمال مشرق غلزئ، افريدي، بنګښ او د اورکزی په سيمو کښې وئېل کيږي"(13)

دلته چې کوم د لهجو د څلورو ګروپونو تقسيم شوے دے په دې کښې کمے محسوسيږي ځکه چې په دريم نمبر کښې چې د جنوب مشرق نوم ورکړے شوے دے بلوچستان، بنو، وزيري، کاکړي، شېراني، سپين/تور ترين او په څلورم نمبر کښې په شمال مشرقي پاکستان کښې پېښور، يوسفزي، مهمند، شمال مشرقي غلزئ، افريدي، بنګښ او اورکزي ياد شوي دي خو د داوړوالې لهجې ذکر نۀ دے شوے چې د دې ګروپ سره هم يوه مضبوطه رابطه لري

## د پښتو د لهجو پينځۀ ګروپونه:

د لهجود څلورو ګروپونو نه علاوه د لهجې يو بل ګروپ هم دے چې د پښتو په اصطلاح کښې ورته مرکزي يا منځنۍ لهجه وائي دا لهجه د پاکستان په قبائلي سيمه شمالي وزيرستان ميران شاه کښې او جنوبي وزيرستان (وانا) نه علاوه د خېبرپښتونخوا بنوں او کرک د دې ځايونه دي او په افغانستان کښې هم د دې ځاے دے-

د مرکزي لهجې چې کوم خصوصيات دي د هغوي د وضاحت د پاره Anny Boyl Dawid دا لاندې ټېبل جوړ کړے دے:

| Pashto word | SW | SE | NW | NE | M |
|---|---|---|---|---|---|
| پښتو‘pashto’ | paṣto | pašto | paçto | paxto | pašto |
| شپږ‘six’ | spaẓ | spəž | spəg | spag | špež |
| څوک‘who’ | tsok | tsok | sok | sok | tsek, tsok |
| پنځهٔ‘fiwe’ | pindzə | pindzə | pinzə | pinzə | pinzə |
| لاس‘hand’ | lās | lās | lās | lās | los |
| لور‘daughter’ | lur | lur | lur | lur | lir (14) |

پهٔ دغه ټېبل کښې د پښتو د پينځو غټو لهجو صوتياتي تبادل ښودلے شوے دے خو دلته Anny Boyl Dawidچې کومې دوه لهجې وزيرۍ او ځدرانۍ ښودلې دي دا ئې کمې ښودلې دي ځکه چې پهٔ منځنۍ لهجه کښې يوازې وزيرۍ او ځدرانۍ لهجې نهٔ دي پهٔ دې کښې داوړواله لهجه، بنوڅۍ لهجه، خټک لهجه، دپکتيا لهجه، تنۍ لهجه او منګل لهجه دا ټولې لهجې پهٔ منځنۍ لهجه کښې راځيAnny Boyl Dawidيو بل ځائے د منځنۍ لهجې د هم آهنګۍ پهٔ حقله ليکي:

> "ولې دوه لهجې لکه وزيرۍ او ځدرانۍ د يو بل سره ډېر خصوصيات مشترک لري چې هغه د پښتو پهٔ نورو لهجو کښې نهٔ ليدل کېږي دوي د بېواکه غږونو پهٔ حواله پهٔ مختلف انداز لفظونه جوړوي چې هم د دغو لهجو ځانګړنه ده"(15)

دلته Anny Boyl Dawidدا واضحه کړې ده چې وزيري لهجه او ځدرانۍ لهجه د يو بلسره نژدېوالے لري يعني کوم شرکت چې وزيري لهجه او ځدرانيي لهجه د يو بل سره لري د پښتو پهٔ نورو لهجو کښې نشته-

لکه څنګه چې دلته ځدرانۍ لهجه او وزیرۍ لهجه د یو بل سره نژدېوالے لري هم دغه شان داوړواله لهجه، بنوڅۍ لهجه او خټک لهجه هم د ځدرانۍ لهجې سره نژدېوالے لري خو د دې نورو لهجو په نسبت وزیرۍ لهجه ځدرانۍ لهجې ته ډېره نژدې ده-

Daniel G. Halberg د پښتو د څلورو لهجو تقسیم چې کوم د پاکستان د پښتنو په سیموکښې کړے دے په هغه کښې کرلاڼ ګروپ او د اورکزیو، بنګښو او طوري(ټرانزیټ) ګروپ د لهجو په تقسیم کښې په یوه ګروپ کښې حساب کړي دي خو زما په خیال چې کرلاڼ ګروپ او د اورکزیو، بنګښو او طوري(ټرانزیټ) ګروپ بېل بېل ګروپونه په کاردي ځکه چې د ټرانزیټ ګروپ خلق نه خو پوره کرلانۍ لهجه وائي او نه خو پوره پېښورۍ لهجه وائي د ټرانزیټ ګروپ خلق ځینې آوازونه د کرلانۍ لهجې ادا کوي او ځینې آوازونه د پېښورۍ لهجې ادا کوي نو د دې وجې نه کرلاڼ ګروپ او ټرانزیټ ګروپ یو نه دے په کار بلکه دا دواړه ګروپونه بېل بېل په کاردي او که دا ګروپ په دوو ګروپونو کرلاڼ ګروپ او ټرانزیټ ګروپ کښې تقسیم شي نو د پاکستان د پښتنو په سیمو کښې د پښتو د لهجو د ګروپونو شمېره به د څلورو په ځاے پینځۀ شي لکه څنګه چې یوسف خان جذاب صاحب په دې حقله داسې لیکلي دي:

> "په لساني بنیاد د پاکستان په پښتو ویونکیو سیمو کښې د لهجو څلور غټ ګروپونه کېدلے شي لکه کوېټه ګروپ، مروت ګروپ، کرلاڼي ګروپ او د پېښور ګروپ چې د موجوده څېړنې په رڼا کښې موجود دید هالبرګ هغه ګروپ(Middle settled area or Middle tribal) چې خصوصیات ئې واضح نۀ دي په حقیقت کښې د اصلي کرلاڼي ګروپ تسلسل دے دغه ګروپ ځینې لساني خصوصیات د پېښور ګروپ سره او ځینې د کرلاڼ ګروپ سره مشترک لري د دې وجې نه دې ته ټرانزیشنل بېلټ وئېل په کار دي مګر ترکومه پورې چې د پښتو د ټولو لهجو په خصوصي توګه په نسلي بنیاد مطالعه نۀ وي شوې تر هغې پورې د لهجو د دې تقسیم ختمي فېصله نۀ شي کېدلے"(16)

د جذاب صاحب د خبرې نه دا معلومه شوه چې د پښتو د لهجو چې کوم تقسيم دے دا عارضي تقسيم دے ولې د ختمي تقسيم د پاره مونږ ته اول د پښتو د ټولو لهجو پۀ نسلي بنياد تحقيق کول پۀ کار دي او بيا به مونږ د پښتو لهجو د تقسيم ختمي فېصله کولے شو-

## د پښتو ژبې د لهجو پۀ تقسيم کښې د داوړوالې، اورکزي او بنګښ لهجې مقام:

د کرلانړ پښتو د لهجو پۀ ګروپونو کښې ځاے پۀ ګوته کول پۀ کار دي ځکه چې داوړواله، اورکزي او بنګښ پښتو هم د کرلانړ پښتو برخه ده لکه څنګه چې کرلانړ قبيلې پۀ نسبي ډول د يو بل سره نژدې دي هم دا رنګه د دوي لهجې هم د يو بلې سره مشترک خصوصيات لري پۀ واول (/ɑ/____/ɑ̄/, /ɑ̄/____/ō/, /ō/____/ē/, and /ū /____/ī /) کښې بدلون هم د اکثرو کرلانړ قبيلو پۀ لهجو کښې يو شان دے چې پۀ دې کښې د داوړواله، اورکزئ او بنګښ لهجه هم راځي خو د اورکزو او بنګښو لهجه تقريبًا يو شان ده

د دوې غټې لهجې کومې چې پۀ شمال مشرق او جنوب مشرق کښې وئيلې کيږي د دوو ګروپونو تقسيم نه پس د پښتو لهجو د دريو ګروپونو تقسيم شوے دے کومه چې لوېديځه لهجه ده چې د کندهارۍ لهجې پۀ نوم هم ياديږي، دويمه مرکزي لهجه ده چې د منځنۍ لهجې پۀ نوم هم ياديږي او دريمه ختيځه لهجه ده چې د ننګرهارۍ لهجې پۀ نوم هم ياديږي د پښتو د دريو ګروپو د لهجو تقسيم نه پس د څلورو ګروپونو تقسيم شوے دے کوم چې لومړۍ ډله لوېديځ يا قندهاري ګڼدودونه دي، دويمه ډله يا سوېل ختيځ ګڼدودونه دي چې د لومړۍ ډلې پۀ مخامخ جغرافيائي دريځ کښې تېکاو لري، دريمه ډله (منځنۍ) ګڼدودونه دي او څلورمه (د شمال ختيځه يا ننګرهارۍ) ګڼدودونه دي

د پښتو د څلورو ګروپونو تقسيم نه پس د پښتو لهجو د پينځو ګروپونو تقسيم شوے دے پۀ دې ګروپونو کښې سوېل لوېديځ (SW)، سوېل ختيځ (SE)، قطب لوېديځ (NW)، قطب ختيځ (NE) او منځنۍ (M) پۀ حساب سره کړے دے د پښتو لهجو د ګروپونو دا تقسيم خپلواکه او بې واکه دواړو غږونو پۀ اساس شوے دے لۀ دې وجې نه د کرلانړ لهجې ځاے پۀ دې تقسيم

کښې د خپلواکه غږونو په سبب ډېر واضح دے کوم مثالونه ئې چې په منځني (M) ګروپ کښې ور کړي دي لکه پشتو (pašto)، شپېږ (špež)، څېک/څوک (tsek, tsok)، پينځهٔ (pinzə)، لوس (los) او د لير (lir) کړي دي اوس دلته که مونږ د پښتو د لهجو په پينځو ګروپونو کښې مونږ د کرلاڼې لهجې ځاے لټوو نو کرلاڼې لهجه بيا په منځني (M) ګروپ کښې دے

د داوړوالې، اورکزي او بنګښ لهجو بېواکه غږونو (Consonants) لکه ش /ʃ/، ژ /ʒ/، ښ /ʂ/، ږ /ʐ/ په اساس مونږ د پښتو لهجو د ګروپونو په تقسيم کښې مقام معلومولے شو په دې دريو واړو لهجو (داوړواله، اورکزي، بنګښ) کښې د بې واکه غږونو (consonants) يووالے هم شته او توپير هم ځکه چې اورکزي او بنګښ ځينې غږونه د پېښوري/يوسفزي لهجې استعمالوي او ځينې د داوړو په شان د کرلاڼې لهجو استعمالوي

۱. د څ /ts/ په داوړواله، اورکزي او بنګښ لهجه کښې:

د /څ/-/ts/ غږ هم غبرګ غږ دے يعني د دې غږ په ادا کولو کښې دوه غږونه ووځي /ت/-/t/ او /س/-/s/ (تځهٔ) چې غبرګ غږونه وئېل کيږي خو ځينې ژبپوهان وائي چې د /ښ/، /ږ/، نه علاوه دوه علامتونه نوره هم شته چې /څ/ او /ځ/ دي چې دا د دريوو آوازونو نمائيندګي کوي خو په علامتونو /څ/ او /ځ/ او /ښ/ او /ږ/ کښې غټ فرق دے ځکه چې /ښ/ او /ږ/ د پښتو قبيلو په دوو غټو ګروپونو کښې فرق ښائي مګر د /څ/ او /ځ/ آوازونه د /ښ/ او /ږ/ په شان په دوو غټو ګروپونو کښې فرق نهٔ ښائي بلکه څهٔ وړې قبيلې دي چې دغه د عام تلفظ نه مختلف ادا کوي دا غږ /څ/-/ts/ په داوړواله لهجه کښې په /س/-/s/ وئېل کيږي او په اورکزي يا بنګښ لهجو کښې په ځينو ځايونو کښې د يوسفزي يا پېښوري لهجې په شان /څ/-/ts/ په /س/-/s/ وئېل کيږي او په ځينو ځايونو کښې د قندهاري لهجې په شان په /څ/-/ts/ وئېل کيږي لکه د مثال په توګه په دې لاندينې ټېبل کښې:

| د ليک ژبه | بنګښ لهجه | اورکزي لهجه | داوړواله لهجه | شمېره |
|---|---|---|---|---|
| څومره tso′mra | څوره tso′ra | څوره tso′ra | سېمره se′mra | ۱ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | سرنګې sə′range | څنګې tsə′ange | څنګې tsə′ange | څنګه tsə′anga |
| ۳ | سۀ sə | څۀ tsə | څۀ tsə | څۀ tsə |

د /څ/-/ts/ غږ استعمالولو تر حده اورکزۍ او بنګښ لهجې د ګروپونو پۀ تقسیم کښې دلته پۀ قندهارۍ یا خټک ګروپ کښې راځي

۲. د ژ /ʒ/ غږ پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجه کښې:

پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجه کښې هم د /ژ/-/ʒ/ غږ وئېل کیږي د دې غږ /ژ/-/ʒ/ مثالونه پۀ لاندې ټېبل کښې ورکړي شوي دي

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ژوار ʒawā′r | ژوار ʒawā′r | ژوار ʒawā′r | ژور ʒawə′r |
| ۲ | ژرانده ʒrā′nda | ژرانده ʒrā′nda | ژرانده ʒrā′nda | ژرنده ʒrə′nda |
| ۳ | رېژه reʒa′ | روژه roʒa′ | روژه roʒa′ | روژه roʒa′ |
| ۴ | ژړو ʒaĭo′ | ژړو ʒaĭo′ | ژړو ʒaĭo′ | ژړا ʒaĭā′ |
| ۵ | ژوند ʒwənd | ژوند ʒwənd | ژوند ʒwənd | ژوند ʒwənd |

د ژ/ʒ/ غږ پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجه کښې یو شان وئېل کیږي دلته اورکزۍ او بنګښ لهجه هم مونږ د داوړوالې لهجې پۀ شان د دوه ګروپونو پۀ تقسیم کښې مونږ د قندهارۍ یا خټک لهجې پۀ ګروپ کښې مقام ورکولے شو ځکه چې پۀ یوسفزۍ یا پېښورۍ لهجه کښې د ژ/ʒ/ غږ پۀ ج /j/ سره وئېل کیږي لکه پۀ دې پاسني ټېبل کښې ور کړي شوي مثالونه پۀ یوسفزۍ یا پېښورۍ لهجه کښې جور-jawə′r ، جرنده -jrə′nda ، روجه - roja′، جړا-jaĭā′ او جوند -jwənd

۳. د ږ /ʐ/ غږ پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجه کښې:

/ږ/-/ʐ/ غږ هم غبرګ ژبيز (Retroflex) غږ دے د دې غږ /ږ/-/ʐ/ په ادا کولو سره هم ژبه را غونډيږي او دا /ږ/-/ʐ/ غږ د پښتو په بېلابېلو لهجو کښې په بېلا بېلو ډولونووئيل کيږي نو دلته هم دا غږ /ږ/-/ʐ/ په داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې په بېل بېل ډول وئيل کيږي په داوړواله کښې دا /ږ/-/ʐ/ غږ په /ژ/-/ʒ/ سره وئيل کيږي او په اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د /ږ/-/ʐ/ دا غږ په /ګ/-/g/ سره وئيل کيږي يعني دا دواړه غږونه ځانګړتيا لري چې د پښتو په لهجو کښې د اړون بدلون د دې غږونو په اساس دے ځکه چې که مونږ د پښتو لهجو د دوه ګوپونو وېش وګورو نو دا وېش هم په غږونو /ژ/-/ʒ/ او /ږ/-/ʐ/ سره شوے دے چې په په قندهارۍ/خټک لهجه کښې /ژ/-/ʒ/ وئيل کيږي او په يوسفزۍ/پېښورۍ لهجه کښې د /ږ/-/ʐ/ غږ د /ګ/-/g/ غوندې وئيل کيږي په داوړواله لهجه کښې دا غږ په /ژ/-/ʒ/ سره وئيل کيږي او په اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د /ږ/-/ʐ/ غږ په /ګ/-/g/ سره وئيل کيږي دلته د دې نه هم دا معلومه شوه چې داوړواله لهجه د پښتو لهجو د دوه ګروپونو په تقسيم کښې د /ژ/-/ʒ/ غږ په اساس په قندهارۍ يا خټک ګروپ کښې را ځي او اورکزۍ او بنګښ لهجې د /ږ/-/ʐ/ غږ د /ګ/-/g/ په اساس په يوسفزۍ يا پېښورۍ ګروپ کښې راځي لکه په دې لاندېني ټېبل کښې:

| شمېره | داوړواله لهجه | | اورکزۍ لهجه | | بنګښ لهجه | | د ليک ژبه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ژيره | ʒi′ra | ګيره | gi′ra | ګيره | gi′ra | ږيره | ʐi′ra |
| ۲ | شپېژ | ʃpeʒ | شپېګ | ʃpeg | شپېګ | ʃpeg | شپږ | ʃpəʐ |
| ۳ | ژاغ | ʒāɣ | غاګ | ɣāg | غاګ | ɣāg | غږ | ɣəʐ |
| ۴ | خوژ | xwəʒ | خوګ | xwəg | خوګ | xwəg | خوږ | xwəʐ |
| ۵ | غېژ | ɣeʒ | غېګ | ɣeg | غېګ | ɣeg | غوږ | ɣwəʐ |

### ۴. د ش /ʃ/ غږ په داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجه کښې:

/ش/-/ʃ/ غږ هم منښن بېواک غږ دے په دې غږ کښې ژبه د کلکو تالو سره جنګيږي ځکه دې غږ/ش/-/ʃ/ ته کلک تالويز (palatal) غږ وائي د پښتو ژبې د نورو لهجو په شان په داوړواله،

اورکزۍ او بنګښ لهجه کښې هم د /ش/-/ʃ/ غږ وئېل کيږي لکه مونږ چې د دې غږ /ش/-/ʃ/ مثالونه په لاندې ټېبل کښې ورکړي دي

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | مشر məʃə′r | مشر məʃə′r | مشر məʃə′r | مشر məʃə′r |
| ۲ | شارم ʃā′rəm | شارم ʃā′rəm | شارم ʃā′rəm | شرم ʃə′rəm |
| ۳ | شکېر ʃker | شکور ʃkor | شکور ʃkor | شکور ʃkor |
| ۴ | مشر məʃə′r | مشر məʃə′r | مشر məʃə′r | مشر məʃə′r |
| ۵ | شپه ʃpa | شپه ʃpa | شپه ʃpa | شپه ʃpa |

## ۵. د ښ /ʂ/ غږ په داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجه کښې:

/ښ/-/ʂ/ غږ هم غبرګ ژبيز (Retroflex) غږ دے د دې غږ /ښ/-/ʂ/ په ادا کولو سره هم ژبه را غونډيږي او يا را ټوليږي نو د ژبې د راغونډېدو او يا را ټولېدو په دا غږ /ښ/-/ʂ/ هم پېدا کيږي چې دې ته غبرګ ژبيز غږ ورته وائي دا غږ /ښ/-/ʂ/ په داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې په بېل بېل ډول وئېل کيږي په داوړواله کښې دا /ښ/-/ʂ/ غږ په /ش/-/ʃ/ وئېل کيږي او په اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د /ښ/-/ʂ/ غږ د يوسفزۍ يا پېښوري لهجې په شان /خ/-/x/ وئېل کيږي که مونږ د پښتو لهجو د دوه ګوپونو تقسيم وګورو نو دا تقسيم په غږونو /ښ/-/ʂ/ او /ش/-/ʃ/ سره هم شوے دے چې په په قندهارۍ يا خټک لهجه کښې /ش/-/ʃ/ وئېل کيږي او په يوسفزۍ يا پېښورۍ لهجه کښې د /ښ/-/ʂ/ غږ د /خ/-/x/ وئېل کيږي نو هم دغسې دلته په داوړواله لهجه کښې /ش/-/ʃ/ وئېل کيږي او په اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې هم د/ښ/-/ʂ/ غږ /خ/-/x/ وئېل کيږي دلته د دې نه دا هم معلومه شوه چې داوړواله لهجه د پښتو لهجو د دوه ګروپونو په تقسيم کښې د /ش/-/ʃ/ غږ په اساس په قندهارۍ يا خټک ګروپ کښې را ځي او اورکزۍ او بنګښ لهجې د/ښ/-/ʂ/ د /خ/-/x/ غږ وئېلو په اساس په يوسفزۍ يا پېښورۍ ګروپ کښې راځي لکه کثالون ئې چې په دې لاندېني ټېبل کښې بيان شوي دي:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | غېشه ɣe′ʃa | غوخه ɣwə′xa | غوخه ɣwə′xa | غوښه ɣwə′ʂa |
| ۲ | پشتو paʃto′ | پختو paxto′ | پختو paxto′ | پښتو paʂto′ |
| ۳ | شکور ʃkor | خکور xkor | خکور xkor | ښکار ʂkār |
| ۴ | شزه ʃə′za | خزه xə′za | خزه ə′za | ښځه ʂə′za |
| ۵ | ویشتۀ wiʃtə′ | ویختۀ wixtə′ | ویختۀ wixtə′ | ویښتۀ wiʂtə′ |

د پښتو لهجو د ګروپونو د تقسیم د مطالعې پۀ رڼا کښې مونږ ته دا معلومات پۀ راغلل چې د داوړوالې لهجې مقام پۀ قندهارۍ یا خټک ګروپ کښې را ځي یعني داوړ سوچه دکرلانۍ لهجې غږونه استعمالوي د پېښوري یا یوسفزي لهجې سره ئې هېڅ د /ږ/ پۀ /ګ/ او /ښ/-/ʂ/ پۀ /خ/-/x/ غږونو سمون نشته خو اورکزۍ او بنګښ لهجه د /ژ/ غږ پۀ اساس د قندهارۍ یا خټک لهجې پۀ ګروپ کښې را ځي او د /ږ/ پۀ /ګ/ او /ښ/-/ʂ/ پۀ /خ/-/x/ غږونو پۀ اساس د یوسفزۍ یا پېښورۍ لهجې پۀ ګروپ کښې راځي او /ځ/ د قندهارۍ لهجې استعمالوي د دې وجې نه اورکزۍ او بنګښ لهجې د کرلانۍ، یوسفزۍ یا پېښورۍ او قندهارۍ یا خټک لهجې پۀ ګروپونو کښې برخه لري چې د یوسفزۍ یا پېښورۍ او قندهارۍ یا خټک لهجو ګروپونو پۀ منځ کښې د پولې کردار ادا کوي.

# حوالې

1. Grierson, George Abraham, Linguistic surwey of India, Wol-1Superintendent Gowernment Printing, Calcutta, 1921, p.7

2. ريشتين،صديق الله، پښتو ګرامر(ژباړن)سيد محي الدين هاشمي، پېښور،يونيورستي بک اېجنسي، ۱۹۹۴ ء، ص۴۱۳

3۔ پاکستاني زبانيں مشترکہ لساني وادبي ورثہ، مرتبين،ڈاکٹر انعام الحق جاويد، عبداللہ جان عابد، اسلام آباد، علامہ اقبال اوپن يونيورسٹی،۲۰۰۹ء، ص۴۷

4۔ عابد، عبداللہ جان، پشتوزبان وادب کي مختصر تاريخ، پشاور، يونيورسٹی، پبلشرز،۲۰۰٦ء، ص ص۳۰،۳۱

5. Encyclopaedia, Iranica, Edited by Ehsan yarshater, Wol 1, Kieffer, London, 1985, p.505

6. پرېشان خټک، پروفېسر، لیک دود، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورستي، ۱۹۷۸،ص ۱۹

7. نعيم، هدايتالله،ډاکټر، مياشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي، ۱۹۹۶، ص ۴۸

8. ريښتين، صديق الله، پښتو ګرامر (ژباړن) سيد محي الدين هاشمي، پېښور،يونيورستي بک اېجنسي، ۱۹۹۴ء، ص ۴۱۳، ۴۱۴

9. A reference Grammar of Pashto, Habib ullah Tegey, Barbara Roobson, Center for Applied Linguistics, Washington DC,1996, p.6

10. Mackenzi-Standard-Pashto 1959, p.202

11. زيار، مجاور احمد ، ډاکټر، پښتو او پښتانهٔ د ژبپوهنې پهٔ رڼا کښې، پېښور، شينواريپرينټينګ پرېس، ۲۰۰۱ ، ص ص ۲۹۸-۳۰۰

12. Henderson, M.T.Michael, Journal of the America oriental sosiety, Wol 103, No3,(Jul-Sep,1983),p595

13. Ludwig Reichert Werlag. Dr.Compendium Linguarum Iranicarum Herausgegeben won Rudiger Schmitt, Germany 1989, p.386

14. Dawid, Anny Boyl, Descriptiwe Grammar of Pashto and itsDialects, Wol 1, Germany, 2014, p.33

15. Dawid, Anny Boyl, Descriptiwe Grammar of Pashto and itsDialects, Wol 1, Germany, 2014, p.39

16. Jazab,Yousaf Khan, An Ethno-linguistic Study of the Karlanri Warieties of Pashto, Pashto Academy Uniwersity of Peshawar, 2017, p.39